# د امیرِ اهلسنت نه د وتر لمُونځ په باره کښې سوال او جواب

پښتو



پیشکش:
مجلس المدینة العلمیه (دعوتِ اسلامی)
ترجمه:
ټرانسلیشن ډپارټمنټ (دعوتِ اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

دا رساله د امیر اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه نه شوي سُوالونه او د هغې په جوابونو مشتمل ده.

## د امیرِ اهلسنت نه د وتر لمُونځ په باره کښې سوال او جواب

دعائے جانشینِ امیر اهلسنت: یارَبَّ المُصطفٰی! څوک چې دا رساله "د امیر اهلسنت نه د وتر لمُونځ په باره کښې سوال و جواب" اولولي یا واوري، هغوئي ته د جَمعې سره د لمُونځ کولو توفیق نصیب کړې. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُعائے قُنُوت نه پس دُرُود شریف لوستل غوره دي

حضرت مُعاذ بن حارث رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به (دعائے) "قنوت" کښې د الله پاک په آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُرُودِ پاک لوستلو. (فضل الصلاة على النبي للقاضي الجهضمي، ص 87، رقم: 107)

په "بهار شریعت" جلد اوّل صفحه 655 باندې حضرت علامه مولانا مفتي محمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: (د وتر لمُونځ په دریم رکعت کښې) د دُعائے قُنُوت نه پس دُرُود شریف لوستل بهتر دي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

سوال: لمُونځونو کښې مونږه د وخت نِيَّت کوؤ، د مثال په طور د سحر لمُونځ کښې د سحر د وخت، ماسپخین کښې د ماسپخین د وخت نو د وتر لمُونځ کولو په وخت به د

کوم وخت نِیَّت کوؤ؟

جواب: د درې رکعته وتر واجب نِیَّت به کوو، د ماسخُتن وخت وئیل شرط نه دي ځکه چې یقیني خبره ده چې وتر لمُونځ په ماسخُتن کښې کیږي. په زړه کښې نِیَّت کافي دے، په ژبه وئیل ضروري نه دي، البته! په ژبه وئیل مُستَحَب دي.

(ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنّت، قسط:156)

سوال: آیا د وتر د دریم رَکعت تکبیر نه مخکښې لاس ښکته کول ضروري دي؟

جواب: د وتر دریم رَکعت تکبیرِ ته تکبیرِ قنوت وائي او دا واجب دے. (بہارِ شریعت، 518/1، حصہ:3) او د دې د پاره خاص طور د لاسونو ښکته کولو ضرورت نشته بلکه څنګه چې سورۀ فاتحه او بل یو سورت اولولئ نو اوس لاس اوچت کړئ او اَللّٰهُ اَكْبَر او وائې او بیا لاسونه په نامه کیږدئ. (ملفوظاتِ امیرِ اهلِ سنت، 469/3)

سوال: که چرې په وتر کښې تکبیرِ قنوت (یعني د دعائے قنوت د پاره ویونکے تکبیر) وئیل هیر شي نو آیا سجدۀ سهو به لازم وي؟

جواب: تکبیرِ قُنوت واجب دے، که چرې واجب په هیره پاتې شي نو سجدۀ سهو لازم ده. (درمختار مع ردالمحتار، 200/2) که چرې قصدًا عمَدًا تکبیر اُو نه وئیلو یا ورته مسئله معلومه نه وه نو لمُونځ راګرځول واجب دي. (ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنّت، قسط:156)

سوال: آیا وتر کښې د دعائے قنوت په ځائے بل څه لوستے شو؟

جواب: آؤ جي! که چرې دعائے قنوت نه درځي نو د دې په ځائے "رَبِّ اغْفِرْلِیْ

"یا "اَللّٰھُمَّ اغْفِرْلِیْ" اووائې او که چرې دا هم نه درځي نو "یَارَبِّی" درې ځله اووائې.

(فتاوٰی رضویه، 158/8) (ملفوظاتِ امیر اهل سنت، 477/2)

سوال: که چرې د چا نه وتر لمُونځ کښې دعائے قنوت لوستل هیر شي نو آیا د هغه لمُونځ به کیږي؟

جواب: دعائے قنوت لوستل واجب وو، که چرې هیر شو نو سجدۀ سهو اوکړئ، لمُونځ به صحیح شي. (درمختار، 538/2 تا 540 ملخصا) (ملفوظاتِ امیر اهل سنت، 378/3)

سوال: د وتر دریم رکعت کښې د تکبیر قنوت په وخت د لاسونو اوچتولو وجه څه ده؟

جواب: (ځکه چې) په شریعت کښې د دې حکم دے. د لمُونځ شروع کولو په وخت تکبیر تحریمه کښې هم خو لاسونه اوچتوئ، د وتر لمُونځ کومه طریقه چې شریعت بیان کړې ده د هغې په دریم رکعت کښې تکبیر قنوت دے او دا وئیل واجب دي. (فتاوٰی هندیه، 72/1، بهارِ شریعت، 518/1، حصه: 3) خو لاسونه اوچتول سنت دي.

(درمختار مع رد المحتار، 200/2، بهارِ شریعت، 521/1، حصه: 3) (ملفوظاتِ امیر اهل سنت، 209/5)

سوال: مونږه د وتر دریم رکعت کښې د دعائے قنوت نه مخکښې سورۀ اخلاص لولو، دا ارشاد اوفرمائې چې آیا د سورۀ اخلاص نه علاوه بل یو سورت هم لوستے شو؟

جواب: د وتر دریم رکعت کښې د سورۀ فاتحه نه پس سورۀ اخلاص لوستل ضروري نه دي. بل هر یو سورت هم لوستے شئ. (ملفوظاتِ امیر اهل سنت، 442/6)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

سوال: که چرې امام د وتر لمُونځ ورکوي او تکبير قنوت اووائي او مقتدي رکوع ته لاړ شي نو آيا د رکوع نه د بيرته راتلو سره دعائے قنوت وئيلے شي ځکه چې ځانله وتر کولو کښې چې داسې اوشي نو د رکوع نه واپس کيدو سره د قنوت اجازت نشته؟ (ريکارډ شوے سوال)

جواب: د امام پيروي واجب ده، "کوم څيزونه چې فرض او واجب دي. په مقتدي واجب دي، هغه دې د امام سره ادا کړي. (بهارِ شريعت، 519/1، حصه:3) لِهٰذا که مقتدي رکوع ته ښکته شوے وي نو بيرته دې راشي او د امام سره دې دعائے قنوت اووائي.

(ملفوظاتِ امير اهلِ سنت، 436/2)

سوال: که چرې يو کس د وتر دويم رکعت کښې شامل شو او دريم رکعت کښې ئې د امام سره دعائے قنوت اولوستلو نو آيا هغه به خپل دريم رکعت کښې بيا دعائے قنوت لولي؟

جواب: په دويم رکعت کښې ئې دعائے قنوت اولوستو نو دريم رکعت کښې بيا د لوستو حاجت نشته، په دريم رکعت کښې دې **سُوْرَةُ الْفَاتِحَه** او بل يو سورت اووائي او لمُونځ دې پوره کړي. (ملفوظاتِ اميرِ اہلِ سنت، قسط:156)

سوال: امام پسې که د وتر وروستۍ قعده کښې په هيره چا د **اَلتَّحِيَّات** نه پس درود شريف اولوستل نو آيا وتر به بيا کوي؟

جواب: مقتدي دې وتر لمُونځ کښې امام پسې قصدًا وروستۍ قعده کښې د **اَلتَّحِيَّات** نه پس درود شريف نه لولي. البته که په بے خيالۍ کښې ئې اولوستو نو دې کښې هيڅ

حرج نشته. (غنیة المتملی، ص 421) (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 497/6)

سوال: د تراویح نه مخکښې وتر لمُونځ کولے شي او که نه؟

جواب: کولے خو ئې شي خو بهتره دا ده چې اوّل تراویح اوکړې.

(در مختار مع رد المحتار، 597/2)(ملفوظاتِ امیر اهلِ سنت، 230/6)

سوال: بعضې خلق د ماسخُتن خلور فرض، دوه سنت، دوه نفل او درې وتر کوي او نور پرېږدي، داسې کول څنګه دي؟

جواب: د ماسخُتن په لمُونځ کښې خلور فرض، د دې نه پس دوه سنت مُؤَکَّده او درې وتر کول ضروري دي. (همارا اسلام، ص 26) د دې نه علاوه د فرضو نه مخکښې څلور رکعته سنت غیر مؤکّده، د دوو سنتو نه پس دوه نفل او د وتر نه پس دوه نفل هم کول پکار دي، ثواب به میلاؤ شي، البته که څوک ئې نه کوي نو ګنهګار به نه؟

(در مختار مع رد المحتار، 545/2)(ملفوظاتِ امیر اهلِ سنت، 382/3)

سوال: قضائے عمري د کومو لمُونځونو کیږي؟ (د نګرانِ شُورٰی سُوال)

جواب: قضائے عمري صرف د فرض او وتر کیږي د یوې ورځې شل رکعتونه جوړیږي: دوه فرض د سحر، څلور فرض د ماسپخین، څلور فرض د مازیګر، درې فرض د ماښام، څلور فرض د ماسخُتن او درې وتر. (ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، ص 125)(ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 274/2) د سنتو او نوافلو قضا نشته. (درمختار مع رد المحتار، 633/2 ماخوذاً) البته که چرې سحر د لمُونځ قضا په دغه ورځ د نِصفُ النَّهار شَرعِی نه مخکښې اوکړي نو د سحر د لمُونځ سنت کول

مستحب دي کَني بیا دې صرف فرض ادا کړي. (ملفوظاتِ امیرِ اهلِ سنت، 274/2)

سوال: آیا د ماسخُتن فرض او د وتر قضا بیله بیله کیدے شي؟

جواب: څنګه چې سحر د ماسخُتن لمُونځ فرض اوکړي او ماښام وتر اوکړي داسې خو به قضا راوړے شي خو کوشش پکار دے چې قضا لمُونځ زر تر زره اوکړے شي. آؤ! که څوک صاحبِ ترتیب وي نو هغه به د راتلونکي لمُونځ نه مخکښې قضا شوے لمُونځ اوَّل کوي. (بهارِشریعت، 703/1، حصه:4ماخوذا) لکه د چا نه چې د ماسخُتن لمُونځ قضا شي او په هغه د شپږو لمُونځونو نه د کم لمُونځونو قضا پاتې ده نو په هغه فرض دي چې دا [قضا لمُونځ] د سحرلمَانځه ادا کولو نه مخکښې اوکړي که چرې هغه د قضا لمُونځونو نه مخکښې د سحر لمُونځ اوکړو نو د سحر لمُونځ به ئې نه کیږي. البته که چرې د سحر د لمُونځ وخت ډیر کم پاتې وي چې دا قضا لمُونځ ته اودریږي نو وخت به تیر شي نو بیا دې د سحر لمُونځ اوکړي چې دې حالت کښې د سحر لمُونځ کولو کښې هیڅ حرج نشته د هغه د سحر لمُونځ به اوشي. (بهارِشریعت، 703/1، حصه:4ماخوذا) خو هغه قضا به اوس هم د ده په ذمه پاتې وي. که چرې د چا د شپږو لمُونځونو نه زیات لمُونځونه قضا وي یعني د شپږم لمُونځ وخت هم تیر شوے دے نو اوس هغه صاحبِ ترتیب نه دے پاتې، اوس هغه ته اجازت دے که اوغواړي د هغه وخت لمُونځ مخکښې کولے شي یا د ژوند هر یو قضا لمُونځ مخکښې اوکړي. (بهارِشریعت، 705/1، حصه:4ماخوذا) په چا چې د ډیرو لمُونځونو قضا پاتې وي هغوئي دې نه پریشانه کیږي چې زمونږ یو

لمُونځ هم نه کیږي داسې نه ده. که هغه صاحبِ ترتیب نه وي نو د خپل وختي لمُونځونو سره سره قضا لمُونځونه هم زر تر زره ادا کول واجب دي ځکه د خوراک څښاک او رزق ګټلو نه علاوه چې کوم وخت پاتې شي نو هغه وخت کښې دې ټول [قضا] لمُونځونه کوي. [1] (ملفوظاتِ امیرِ اهلِ سنت، 437/1)

سوال: که یو کَس ناپاکه وي او هغه ته پته نه وي چې هغه ناپاکه دے او دې حالت کښې ئې لمُونځونه اوکړه نو د هغه لمُونځونو به څه حکم وي؟ (د ایس ایم ایس په ذریعه سوال)

جواب: د ناپاکئ یعني د جنابت په حالت کښې شوي لمُونځونه هډو شوي نه دي، دا بیا کول ضروري دي. (بهارِ شریعت، 2802/1، حصه: 2ماخوذا) که وخت تیر شوے وي نو د فرض لمُونځونو قضا دې اوکړي او که په وتر کښې داسې شوي وي نو د هغې دې هم قضا راوړي. [2] (ملفوظاتِ امیرِ اهلِ سنت، 274/2)

---

1 ... د قضا لمُونځونو په آسانه د راګرځولو په باره کښې د معلوماتو د پاره د امیر اهل سنت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَهْ رساله د قضا لمُونځونو اداکولو طریقه اولولئ یا د دعوتِ اسلامي د ویب سائٹ نه ئې فري ډاؤن لوډ کړئ. اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیْم ډیر معلومات به حاصل کړئ او د قضا لمُونځونو اهمو شرعي مسئلو نه به خبر شئ.

2 ... اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِ سُنّت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُاللهِ عَلَیْه فرمائي: (د سحرسنت) که د فرضو سره قضا شوي وي نو د ضحوه کبریٰ راتلو نه مخکښې د دې قضا ده، د دې نه پس نشته او که فرض ئې اوکړه او سنت پاتې شو نو د لمَر راختلو نه پس دا ادا کول مستحب دي- قبلِ طلوع [یعني لمَر راختلو نه مخکښې] روَا (یعني جائز) نه دي. (فتاویٰ رضویه، 145/8)

سوال: مالک (یعني سیټھ) وائي چې صرف د لمَانځه فرض اوکړه او بیا کار شروع کړه. که زه د هغه خبره نه منم او لمُونځ پوره اوکړم او بیا کار شروع کووم نو آیا زما لمُونځ به کیږي؟

جواب: چې کله فرض دې اوکړه نو لمُونځ به اوشي خو سنتِ مؤکده دې نه پرېږدي ځکه چې د دې د کولو هم تاکید دے. وتر هم واجب دي ځکه دې وتر هم اوکړے شي. البته که مالک د نوافلو نه منع کوي نو بیا دې نفل نه کوي.

(بهارِ شریعت، 161/3، حصه: 14 ماخوذا) (ملفوظاتِ امیرِ اهلِ سنت، 36/2)

سوال: که چرې تراویح کول هیر شي نو آیا د وتر نه پس تراویح کولے شي؟

جواب: د وتر نه پس تراویح کولو کښې هیڅ باک نشته.

(بهارِ شریعت، 689/1، حصه: 4 ماخوذا) (ماهنامه فیضانِ مدینه، اپریل 2021)

سوال: په تخت باندې د زنانؤ لمُونځ کول څنګه دي؟

جواب: که زنانه وي او که نارینه، په تخت لمُونځ کولو کښې هیڅ باک نشته خو سجده دې په صحیح طریقه اوکړے شي.[1] البته بعضې زنانه چې په تخت لمُونځ کوي نو په ناسته ئې کوي، نو که چرې فرض لمُونځ وي یا د سحر سنت یا وتر دي نو دا بغیر د

---

1... که چرې په یو نرم خیز د مثال په طور په ګیا، مالوچو، قالین وغیره باندې سجده اوکړے شوه نو که چرې تندے پوره لګیدے وي یعني دومره لګیدے وي چې په نور زور ورکولو هم نه لګي نو جائز ده، ګنې بیا نه ده. (بهارِ شریت، 514/1، حصه: 3)

شرعي اجازت نه په ناسته کول جائز نه دي، ځکه چې په دې لمُونځونو کښې قیام (یعني اودریدل) فرض دی. (تنویر الابصار، 584/2) خو داسې حالت کښې به نیم ثواب میلاویږي (خو چې بے د څه عُذر نه په ناسته ئې اوکړي)

(مسلم، ص 289، حدیث: 1715) (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 563/3)

## دعائے قنوت کښې د غلط صحبت نه د بچ کیدو بیان

**سوال**: د غلط صحبت نه څنګه بچ کیدے شي؟(حسّان نسیم عطاري. د فیس بک په ذریعه)

**جواب**: د یو څیز موندلو د پاره به څه نه څه قرباني ورکول وي. په غلط صحبت کښې خوند ډیر وي، ځکه به ئې پریښودل لږ ګران وي، خو د هغې په نقصانونو غور پکار دے چې غلط صحبت داسې خطرناک وي چې ایمان هم بربادولے شي. حضرت مولانا جلال الدین رومي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي:

تاتُوانی دُور شَو اَز یارِ بد | مارِ بد تنہا ہمیں بر جاں زَنَد
یارِ بد بدتر بُوَد اَز مارِ بد | یارِ بد بَر دِین و بَر ایماں زَنَد

(مثنوی مولانا روم)

"یعني چې څومره کیدے شي د غلط ملګري نه لرې اوسه ځکه چې غلط ملګرے د مار نه هم زیات نُقصان ورکوونکے وي. مار خو صرف ژوند اخلي خو غلط ملګرے ایمان اخلي."

نن سبا د ملګرو په ناسته کښې غیبت، چغلئ او د نورو ګناهونو سره سره نَعُوْذُبِاللّٰه

کفریات هم چلیږي، داسې غلطو صحبتونو کښې د ایمان ضائع کیدو خطره ده. د مکّې د کافر عُقبه بن ابو مُعیط واقعه ده چې ده ایمان راوړے وو، خو بیا د ده ملګري ده له پیغور ورکړو او قائل ئې کړو نو هغه مُرتد شو، (تفسیرخازن، پ19، الفرقان، تحت الآیة: 371/27،3) قرآنِ کریم د هغه، هغه قول نقل کړے دے کوم چې به هغه د قیامت په ورځ په افسوس سره وائي:

| | |
|---|---|
| يٰوَيْلَتٰى لَيْتَنِيْ لَمْ اَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيْلًا ﴿۲۸﴾ (پ19، الفرقان:28) | [مفهوم] ترجمهٔ کنز الایمان: هائے! کاش چې ما فلانکے خپل ملګرے نه وے جوړ کړے. |

غلط ملګرے ایمان اخستے شي او که ایمان وا نخلي نو په غلطو کارونو کښې ضرور اخته کولے شي. ځان له انسان عام طور ګناه کمه کوي، خو چې کله غلط ملګرے میلاؤ شي نو غیبت کښې اخته شي او د ګناهونو منصوبے شروع شي، ځکه ښه ملګرے د ځان ځائې نه ښه دے او د غلط ملګري نه ځان ځاني ښه ده. ملګرے داسې پکار دے چې د هغه د کتلو سره الله پاک رایاد شي، د هغه په خبرو نیکۍ او عمل زیات شي، د هغه د خبرو نه د الله پاک ویره، د آخرت ویره او د جنت شوق پیدا شي او هغه د دوزخ د عذاب نه اُویَروي. د دې دپاره د دعوتِ اسلامي دیني ماحول سره وابسته عاشقانِ رسول صحبت کښې اوسئ، ځکه چې دا ښه صحبت دے. مونږه چې کله وتر لمُونځ کوو نو دا پکښې هم وایو "وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَّفْجُرُكَ" یعني یا الله! زه ستا

فاجر (یعني نافرمانه) بنده پرېږدم. لکه چې بنده د الله پاک په بارګاه کښې وعده او لوظ کوي چې ”زه ستا نافرمانه بنده پرېږدم“ خو د سلام ګرځولو سره د نافرمانه بنده صحبت کښې کښېني. الله پاک دِ مونږ ټول د غلط صحبت نه اوساتي او ښه صحبت دِ رانصیب کړي. د مکتبةُ المَدینه د کتابونو لوستل هم ښه صحبت دے، داسې د مدني چینل صحبت هم مدینه مدینه دہ، ځکه چې دې نه ډېر څه زده کیږي او بنده د ګناهونو نه بچ کیږي.

د سوشل میډیا صحبت خطرناک دے. دا هم بعضې وخت ایمان تباه کوي او پته ئې هم نه لګي، ځکه چې په سوشل میډیا هم د کفر جملے وئیلے شي او قسما قسم فضول خبرې کیږي. ځکه د سوشل میډیا استعمالوونکے هم د خطرې سره مخامخ وي. په سوشل میډیا هر قسمه کلپ خوریږي. دا کومه مقوله چې ده چې ”د ټولو اوره، خو کوه خپله“ د قرآن او حدیث خلاف ده او غلطه ده. شریعت د ټولو یعني د مثال په طور د بد مذهبه د اوریدو نه منع کړې ده، رسولُ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت سیدنا فاروق اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د ”تورات شریف“ د اَوراقو لوستلو نه منع کړے وو او فرمائیلي ئې وو چې که چرې موسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام هم دا وخت وے نو هغه به هم زما د پیروئ نه علاوه بل څه نه کول. (مشکاۃ المصابیح، 57/1، حدیث: 194) تورات شریف، زبُور شریف او اِنجیل شریف کوم کښې چې څه بدلون نه دے شوے هغه بے شکه د الله پاک کلامونه دي او د هغه له خوا نازل شوي دي، د دغه کتابونو په یو یو حرف زمونږ ایمان

دے. (تفسیرکازن، پ3، البقرة، تحت الاية: 285، 225/1) خو اوس چې د دغه کتابونو حکمونه منسوخ شوي دي او هغې کښې بدلون هم شوے دے، ځکه که اوس څوک دا لولي نو حیرانه به شي، ځکه د دې د لوستلو اجازت نشته. حضرت فاروق اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ لوئ عالم وو، چې هغوئي منع کړے شو نو مونږ او تاسو څوک یو؟ زمونږ سره څومره علم دے؟ مونږه سوچ کوو چې " د هغوئي کتاب اولولو، د هغوئي تقریر واورو، د هغوئي کلپ اوګورو، د هغوئي د پیج جائزه واخلو چې هغوئي څه څه وئیلي دي،" بیا ئې تّهک کړو او وائرل ئې هم کړو. د الله پاک نه ویریدل پکار دي. اوس خو څوک هیڅ هم نه وائي، نه داسې لګي چې څه شوي دي، خو کله چې د مرګ وخت راشي بیا به پته لګي.

په شَرحُ الصُّدور کښې دي چې "د یو کَس د مرګ وخت راغے، هغه ته د کلمې وئیلو تلقین کیدو خو هغه کلمه نه شوه وئیلے او وئیل ئې چې دا کَسان زه وینم، دوئي وائي چې مونږ به تا کلمے وئیلو ته پرېږ نه دو ، ځکه چې تا د هغه خلقو په صحبت کښې پاتې شوے وے کومو چې به حضرت ابوبکر صدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ او حضرت سیدنا فاروق اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ردي بدي وئیلې." (شرح الصدور، ص38) د سوشل میډیا دا غلطې معاملې د ایمان د بربادئ او د بدې خاتمې سبب جوړیدے شي. د الله پاک او د هغه محبوب خفه کیدے شي ځکه مهرباني اوکړئ صرف د دعوتِ اسلامي او د اهلِسنت د عالمَانو کلپونه ګورئ او هغه وائرل کوئ. د دې په ذریعه به د ګناهونو نه هم حفاظت کیږي او ایمان به مو هم تازه کیږي. که تاسو زما په خبره ځان پوهه کولو په ځائے ماته

ردې بدې اووئيل نو بيا به نور هم ستاسو آخرت برباد شي، ځکه چې ما څه غلطه خبره نه ده کړې. که چرې تاسو زما خبره اومنئ نو ماته به کوم جائيداد يا رقم ميلاؤ شي. زه خو د الله پاک او د هغه د حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رضا غواړم. چې دوئي راضي شي نو بيا که خوک راضي کيږي او که خفه کيږي، زما پرې څه پرواه! بس چې رب او د هغه محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم راضي شي نو د دواړو جهانونو ګټه ده.

(ملفوظاتِ امیرِ اهلِ سنت، 55/5)

## د امیرِ اهلِسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د نوي کتاب د لمُونځ طريقې نه "د امام احمد رضا خان" د ۱۴ حُروفو په نسبت د وتر د لمُونځ ۱۴ مدني ګلونه

(1) وتر لمُونځ واجب دے (2) که چرې دا پاتې شي نو قضا ئې لازم ده. (فتاوٰیٰ هندیه، 111/1)

(3) وتر لمُونځ د ماسخُتن د فرضو نه پس او د صبح صادق نه مخکښې کول ضروري دي. د ماسخُتن او د وتر وخت يو دے، خو خپل مينځ کښې ئې ترتيب فرض دے چې که چرې د ماسخُتن د لمَانځه نه مخکښې وتر لمُونځ اوکړے شو نو نه به کيږي، البته که چرې په هيره وتر مخکښې اوکړے شو يا وروستو ورته پته اولګيده چې د ماسخُتن لمُونځ ئې بے اودسه کړے وو او وتر ئې په اوداسه سره نو وتر اوشو. (فتاویٰ هنديه، 51/1، بهارِ شريعت، 451/1، حصه:3) (4) د چا چې په ځان [د شپے په راببداريدو] باور وي چې د شپې په آخره حِصَّه کښې به پاڅي نو غوره ده چې د شپې په آخرئ حصه کښې وتر اوکړي،

کَښې بیا دې د ماسخُتن نه پس اوکړي. (بهارِشریعت، 658/1، حصه:4) (5) د وتر درې رکعته دي. (درمختار، 532/2) (6) دې کښې اوله قعده واجب ده، صرف د تَشَهُّد لوستلو نه پس اودریږئ. (7) دریم رکعت کښې د قراءَت نه پس تکبیر قنوت (اَللّٰهُ اَکْبَر) وئیل واجب دي. (بهارِشریعت، 521/1، حصه:3) (8) څنګه چې تکبیر تحریمه اووائې دغه شان وړومبے لاس د غوږونو پورې اوچت کړئ او بیا اَللّٰهُ اَکْبَر اووائې (9) بیا لاسونه په نامه کیږدئ او دعائے قنوت اووائې.

## دعائے قُنوت

اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِيْنُكَ وَ نَسْتَغْفِرُكَ، وَ نُؤْمِنُ بِكَ وَ نَتَوَكَّلُ عَلَيْكَ، وَنُثْنِيْ عَلَيْكَ الْخَيْرَ، وَنَشْكُرُكَ وَلَا نَكْفُرُكَ، وَ نَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَّفْجُرُكَ، اَللّٰهُمَّ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَلَكَ نُصَلِّيْ وَنَسْجُدُ، وَ اِلَيْكَ نَسْعٰى وَنَحْفِدُ، وَنَرْجُوْا رَحْمَتَكَ وَنَخْشٰى عَذَابَكَ، اِنَّ عَذَابَكَ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ

**ترجمه:** اے الله! مونږه ستا نه مدد غواړو او ستا نه بخښنه غواړو او په تا ایمان راوړو او په تا باور [یعني بروسه] کوو او ستا ډیر ښه ثنا وایو او ستا شکر ادا کوو او ستا ناشکري نه کوو او بیلوو او پریږدو هغه کَس څوک چې ستا نافرماني اوکړي. اے الله! مونږه صرف ستا عبادت کوو او صرف ستا د پاره لمُونځ کوو او سجده کوو او ستا د اطاعت طرف ته په منډه راځو او تادي کوو او ستا د رحمت امیدوار یو او ستا د عذاب نه ویریږو، بے شکه ستا عذاب کافرانو ته میلاویدونکے دے.

(10) د دعائے قنوت نه پس درود شریف لوستل بهتر دي (بهارِشریعت، 655/1، حصه:4)

(11) څوک چې دعائے قنوت نه شي لوستے هغوئي دې دا اووائي:

اَللّٰهُمَّ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّ فِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ

(اے اللہ!) اے ربه زمونږه! مونږ ته په دنيا کښې خير راکړې او مونږ ته په آخرت کښې خير راکړې او مونږه د دوزخ د اور نه بچ کړې.

يا درې ځله دا اووائې: "اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِیْ" اے الله ما اوبخښې. (غنيه، ص418)

(12) که چرې دعائے قنوت لوستل هير شي او رکوع ته ښکته شوئ نو بيرته مه راځئ بلکه "سجدهٔ سهو" اوکړئ. (فتاویٰ هنديه، 111/1) (13) که وتر د جَمعې سره کيږي (څنګه چې په رَمَضَانُ المُبَارَك کښې کيږي) او مقتدي د قنوت نه فارغ شوے نه وو چې امام رکوع ته ښکته شو نو مقتدي دې هم رکوع ته ښکته شي. (فتاویٰ هنديه، 111/1)

(14) مَسبُوق (چا چې پوره جَمع نه وي موندلې، هغه) که د امام سره قنوت اولولي (نو) وروستو دې نه لولي او که چرې (يو کَس) د امام سره د دريم رکعت په رکوع کښې ميلاؤ شوے وي نو وروستو چې څه وائي په هغې کښې به قنوت نه وائي. (فتاویٰ هنديه، 111/1)

## د وتر د سلام ګرځولو نه پس يو سنت

د دواړو جهانو سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې به کله د وتر سلام ګرځولو، درې ځله به ئې سُبْحٰنَ الْمَلِكِ الْقُدُّوس وئيلو او په دريم ځل به ئې په اوچت آواز وئيلو.

(نسائی، ص299، حديث: 1729) (نماز کا طريقه، ص7977)

## د وتر جَمع

په رَمَضَانُ المُبَارَك کښې وتر د جَمعې سره کول افضل دي که هغه په څه امام پسې وي په چا پسې چې د ماسخُتن لمُونځ او تراويح کړې وي يا په بل يو پسې.

(درمختارمع ردالمحتار،606/2)

## جنتي ګل (واقعه)

حضرت ابو سليمان داراني رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه فرمائي: حضرت ابنِ ثُوبان رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه د خپل يو وررور سره وعده اوکړه چې د شپې ډوډۍ به د هغه سره خوري خو په څه وجه هغوئي لاړ نه شو تر دې چې سحر شو. په بله ورځ چې د هغه سره ملاقات اوشو نو هغه اووئيل: "چې تا زما سره وعده کړې وه چې د شپې ډوډۍ به زما سره خورې بيا دې وعده ولې ماته کړه؟" هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه اوفرمائيل "که چرې زما ستا سره وعده نه وے نو تا ته به مې چرې نه وو وئيلي چې زه ستا خوا له د درتللو نه څه څيز منع کړے ووم! کله چې ما د ماسخُتن لمُونځ اوکړو نو سوچ مې اوکړو چې ستا خوا له د درتللو نه مخکښې وتر اوکړم هسې نه چې مرګ راشي. کله چې ما دعائے قنوت لوستل شروع کړه نو زما مخې ته يوه شنه باغيچه راوړے شوه په کومه کښې چې قسما قسم جنتي ګلونه وو، ما هغې ته کتل تر دې پورې چې سحر شو." (احياءالعلوم،382/1)

## د وتر لمُونځ کولو فضيلت

د حضرت جابر رَضِىَ اللّٰهُ عَنۡهُ نه روايت دے چې د الله پاک محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نیک او لمونځ ګزاره جوړېدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښائے کښې کېدونکې د دعوتِ اِسلامي د سُنَّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښه ښه نیَّتونو سره ټوله شپه تېروئ ❁ د سُنَّتو د تربیَّت د پاره مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "فِکرِ مَدِینه" په ذریعه د مَدَني اِنعاماتو رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ښائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي." اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "مَدَني انعاماتو" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَني قافِلو" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ








فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدینه (کراچئ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com

اوفرمائیل:" چا سره دا ویره وي چې د شپې په آخرئ حصه کښې به بیدار نه شي، هغه له پکار دي چې د اوده کیدو نه مخکښې وتر اوکړي او د چا سره چې دا ویره نه وي، هغه له پکار دي چې د شپې په آخرئ حصه کښې وتر ادا کړي ځکه چې د شپې د آخرئ حصې لمُونځ کښې د ورځې او د شپې فرښتې حاضریږي." (مسلم، حدیث:1766،ص396)

حضرت خارجه بن حُذَافه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چې یو ځل رسولِ کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زمونږ خوا ته تشریف راوړو او اوئې فرمائیل: "بے شکه الله پاک ستاسو مدد د یو داسې لمُونځ په ذریعه کړے دے کوم چې ستاسو په حق کښې د سرو اوښانو نه غوره دے او هغه د وتر لمُونځ دے او دا ئې ستاسو د پاره د ماسخُتن نه د طلوعِ فجر ترمینځه ایښودے دے. (ابو داؤد، 88/2، حدیث:1418)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد